# بلۍ

**Balai**

**Sadiq Zarak**[*]

**Abstract:**

Folk literature portrays cultural, historical, religious, political and many other aspects of a nation in its true spirits and traces its roots. Hence TAPPA is considered one of the most primitive folkloric generes of Pashto literature.

The author of this paper investigated the historical background and significance of BALAI popular amongst pashtoon society. Its frame work has also been explored by comparing it to another folkloric custom known as DRAWAI; popular in kakar's dominated regions of Balochistan.

**Keywords:** Balai, Drawai, Pashto Folk literature, Kakarai Ghari, Tappa

بلۍ په پښتو اولسي ادب کښې ډېره زیاته یاده شوې ده. د پښتو مشهورو سیندونو (Dictionaries) بلۍ لفظ نه دی نیولی، یوازې د پښتو اکېډمۍ پېښور په سیند (پښتو ژبه) کې یې ذکر په لنډ ډول داسې راغلی دی:

"بلۍ: (ب + ی) (پ – اس – مؤ)

د چت چجه

[*] Assist. Prof. Govt. Degree College Sariab Road Quetta

ددې ذکر په اولسي ادب کښې هم ځای په ځای تر سترګو کيږي؛ په ځانګړي توګه په ټپه کښې، لکه:

زړه مي طوطي په هوا ګرزي
د خپل اشنا په بلی، کښي وژاړينه" (۱)

بلی، د بام يا چت هغه راوتلي برخي ته وئيل کيږي چې تر د ېوال راتېره شوې وي. بلی، پر ښو ټينګو لرګيو باندي جوړه شوې وي او د همدغه بام برخه وي. په پښتني کلتور کښې بلی، ځانته ډېر زيات ارزښت لري. د بلی، کلتور نن هم د پښتونخوا په زياترو سيمو کښې دود دی، په ځانګړې توګه د خيبر پښتونخوا په کليو او بانډو کښې د بلی، دود نن هم ژوندی دی. له بلی، څخه د کور نجوني يا مېرمني د دباندي سيمه ننداره کوي نو پر بلی، ختل ورڅخه غواړي. له دې پرته بلی، يو داسي ځای دی چې چېري دوه مئين همدلته پر بلی، باندي سره ويني او د زړه خواله سره کوي. دغه ته ورته دود په کاکړستان کښې شته، خو دې دود ته بيا دراوی، وئيل کيږي خو دغه دراوی، پر بلی، باندي نه وي. دراوی، له کور څخه دباندي يو ځای ټاکل کيږي او هلته دوه مئين سره کښېني، د زړه خواله سره کوي(۲).

د دراوی، په باب ډېري کاکړۍ غاړي شته خو دلته به يوازي دوې کاکړۍ غاړې راوړم چې دراوی، ورڅخه څرګنده شي.

زما و ستا دراوی، پر زی، ده
څي درځم سپينه سپوږمی، ده
پر دراوی، رالم د سرې
د چرسو پروتي وې ټوټې (۳)

که چېري بلۍ او دراوۍ ته وکتل شي نو دغه يو ډول دود دی، خو توپير يې تش په دې کښې دی چي په دراوۍ کښې له کور څخه دباندي دوه مئين سره يو ځای کېږي، هغه ځای مخصوصه نه وي، کله يو ځای او کله بيا بل ځای وي، بلۍ د کور د خوني يا کوټې راوتلې چجه وي او پر دغه باندي دوه مئين سره کښېني.

بلۍ په پښتو ټپو او سروکو (لوبو) کښې دومره زياته راغلې ده چي له هغه څخه دا جوتېږي چي بلۍ څه ته وايي، بلۍ د کوم کار لپاره په کار اچول کېږي، دې عمل ته د پښتو مشهور انقلابي شاعر رحمت شاه سايل داسي ځير دی:

بيا مازيګر شو د نظر د سوځېدو وېره ده
په هغه پوري بام د اور د لګېدو وېره ده
راشئ راواړوئ زما سترګي د يار له سترګو
په تنني جنګ کښې د زړونو ماتېدو وېره ده

د سروکو په باب دوست شينواری کاږي:

"سروکي چي (سرونه) او (نيمکۍ) هم ورته وايي، په ولسي سندرو کښې مهمه برخه لري".(۴)

سروکو ته د خيبر پښتونخوا خلک لوبي هم وايي، سروکي دي چي په خپله لمن کښې ډېر موضوعات رانغاړي، د پښتو سروکو په باب ډېر کار شوی دی، يعني د پښتو ډېر سروکي راغونډ شوي دي خو دا وخت زما په وړاندي د پښتو ژبې تکړه ليکوالي، شاعري، افسانه نګاري، اغلي خور پروفېسر ډاکټر سلمی شاهين کتاب "عوامي سندري" پروت دی. په دې کتاب کښې يو شمېر سروکي راوړل شوي دي د هغو سروکو بېلګي دلته راوړم چي بلۍ کښې ياده شوې وي.

دا زه پناه ولاړه يمه – هلکه بلۍ مه نړوه

لېدی مي نه شيٖ (۵)
په بلۍ رو ځه لېلا رو ځه– باد دي د زلفو بوی راوړي
پرېٖ تازه يمه (۶)
په بلۍ ګرځم لېونۍ لاري څارمه
اشنا به وګورمه (۷)
خال يې په وروځو کښې شغلې کوي– هلال دی
وخته لېلا بلۍ ته– پر سر يې شال دی (۸)
زما په غوږ شو د اوو ډزو اوازونه– د زلمو جنګ دی
راشه و مور جاني بلۍ ته راشه (۹)
په بلۍ مه خېژه لېلا بلۍ نړېږي
نری نری باران ورېږي (۱۰)

زه چي لاهلک وم نو له کابل راډيو څخه به مي د عزيزې په خواږه ږغ کښې دا سروکی اورېدو:

پاس په بلۍ باندي ولاړه ستا دپاره
الله دي راوله زما د مينې ياره

او بخت زميني به بيا په ډېره خواږه انداز دا سروکی وئيلو چي:

(او زه پناه ولاړه يمه– هلکه بلۍ نړۍ مه نړوه
لېدی مي نه شيٖ
تپه د پښتو اولسي ادب هغه په زړه پوري برخه ده چي د پښتنو له ژوند سره تړلي داسي سکالو (موضوع) به نه وي چي په تپه کښې دي ونه موندل شي. د تپې په اړه موږ دا وئيلای شو چي دا د پښتنو د ژوند بشپړه هينداره ده، په دغه هينداره کښې بلۍ دومره زياته ليدل کېږي چي دا ورڅخه جوتېږي چي بلۍ څه معنا لري، څنګه

دود دی، په کومو شرائطو کښې ترسره کېږي. د يادوني وړ ده چې پاس پر بلې باندي زياتره خلک ګلونه کري، په ځانګړي ډول کشمالي (ښه بوی – بېرې) يو داسي ګل دی چي له بلې سره تقريباً تړلی ګل دی، چي په ټپو کښې يې ذکر هم شته. د بلې ټپې د ډاکټر سلمی شاهين، ارواښاد خان عبدالولي خان، پروفېسر محمد نواز طاير، پروفېسر داور خان داود، انقلابي شاعر سلېمان لايق او يو شمېر نورو کتابونو کښې هم خوندي شوي دي، دلته څو ټپې ترې راوړم چي سکالو (موضوع) لاښه وځلېږي.

زړه مي اوچت شي هوا وخوري
د يار په دنګه بلې کېني وژاړينه (۱۱)
سپوږمی په ما دي احسان نشته
د ديدن غل يم د بلې په سپوري ځمه (۱۲)
ټنګ د رباب مي ستا په غوږ شو
لکه درخو د بلې سر ته وخته (۱۳)
پاس په بلې کوتري راغلې
زه په پوښو د يار پوښتنه ترې کومه (۱۴)
پرون دي وې سبا به درشم
نن تر ماشامه په بلې ولاړه ومه (۱۵)
په بلې رو ځه پښې دي پرېوزه
د پېکړې شنا دي کلي خبروينه
په بلې کلکه ګټه کېږده
د عاشقانو ناسته تل په بلې وينه
په بلې مه ژاړه کاسيري
د کشمالو څو کښې دي يار رودلي دينه
په بلې رو ځه لېلا رو ځه
باد دي د زلفو بوی راوړي پې تازه يمه (۱۲)

لـه تېـو پرتـه د بلـۍ ذکـر پـه پښـتو شـاعرۍ کښـې هـم راغلـی دی، چـې دلتـه زه د خپلـو څـو ملګرو شعرونه راوړم چې بلۍ پکښې یاده شوې ده:

شـته خـو څـه ضـرور چـې پـه بلـۍ ګلابـه ښـور نـه
کــــــــــــــــــــــــــوي
لمـر چـې راخېـژي اوس مرغـۍ ګلابـه ښـور نـه کـوي
(خالـــــــد پښـــــتون،
کوهاټ)

ګــل رنګــه پــه بلــۍ ختــې زمــا دي نــه منلــه
پـه کلـي کښـې پـه هـر مجلـس راخـور شـوې او کـه نـه
شـــــــــــــــــــــــــوې
(نواز یوسفزی، بونېر)

بېګـا خـوب کښـې راغلـې وه یـوه ښـه مسـته جینـۍ
بلـــۍ تـــه راختلـــې وه یـــوه ښـــه مســـته جینـــۍ
(صـــــــــــــادق ژړک،
شالکوټ)

کارغــه چــې کېنــي پــه بلــۍ بانــدې نــاره ووهــي
لېــونۍ منــډه کښــې پــه شــونډو دنداســه ووهــي
(سجاد ژوندون، مردان)

پــه بلــۍ نــه خېــژم د ورور نامــه مــې بــده نــه شــي
زه پښـــتنه یمـــه د خپلـــو ورونـــو خیـــال ســـاتمه
(صفیه حلیم)

لېـونۍ خـور اوربـل راتـول کـړو پـه بلـۍ کـوزه شـوه
ویــل یـــې دلتــه چاتــه پورتــه د کتلــو څــوک دي
(طــــاهر بــــــونېرى)

بونېر)

اوس بـه دلتـه پـه پـاى کښـې د پښـتو څـه نـوري ټپـې راوړم چـي مـي پـه کتـابونو کښـې لوسـتي دي یـا مـي دلتـه پـه پېښـور کښـې لـه ملګـرو څخـه اورېـدلي دي، خـداى دي وکړي چي د بلۍ حق به مي څه نه څه ادا کړى وي.

د چا نظر ورپسې نه شي
بلۍ ته دوه خوندي جوړه ختلي دینه
کټ د بلۍ سپوري له راوړه
میاشت د بدرو ده لېوني ګډ شوي دینه
کارغه بلۍ په بلۍ ګرزي
نارې وهي زما جانان ملک ته راځینه (۱۷)
په بلۍ ور څه پښې دي پرېوځه
زما جوړه وروڼه ویدي دي ویښ به شینه (۱۸)
یار مي له خپله لاسه مړ کړو
جنګ په برو وو زه به بلۍ ته وختمه (۱۹)
کټ د بلۍ سپوري له راوړه
مامي ناترسي شرمول راخیستي دینه (۲۰)
په بلۍ ناست کارغه چغېږي
ماته ښکارېږي چي جانان به مي راځینه (۲۱)
بې وروره خور ده په غرمو ځي
د وروڼو خور ده د بلۍ په سپوري ځینه (۲۲)
پاس په بلۍ ناستي ملالي

بنګړې دې مه شړنګوه خوب مه تښتوينه (۲۳)
په کوټه غلې غلې راغله
په بلې کېناسته ګيلې راته کوينه (۲۴)
د تورو زلفو مې زړه بند دی
زه په بلې جانان مې ښکته ځنګوينه (۲۵)

## حوالې


۱ -: پښتو ژبه (ب) دريم جلد ، مولفين پردل خټک، مولوي محمد اسحاق، پښتو اکېډمۍ پېښور، ۱۹۷۱م کال

۲ -: صادق ژړک، کاکړۍ غاړې، ، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، ۲۰۱۰م کال ، ۹۴ مخ

۳ -: همدغه حواله، ۹۷ مخ.

۴-: دوست محمد دوست شینواری، د پښتو اولسي ادب لاري، ۷۴ مخ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، چاپ کال ۲۰۰۷م کال.

۵-: ډاکټر سلمی شاهین، عوامي سندري، ۳ مخ، پښتو اکېډمی پېښور چاپ، ۲۰۰۸م کال.

۶-: همدغه حواله، ۴۵ مخ.

۷-: همدغه حواله، ۴۸ مخ.

۸-: همدغه حواله، ۹۱ مخ.

۹-: همدغه حواله، ۱۲۵ مخ.

۱۰-: همدغه حواله، ۱۷۹ مخ.

۱۱-: خان عبدالولي خان، ملغلري، ډائریکټریټ آف کلچر خیبر پښتونخوا، ۲۰۱۳م کال، ۱۱ مخ

۱۲-: همدغه حواله، ۱۲ مخ.

۱۳-: داور خان داود، پښتو ټپه، پېښور چاپ، ۱۹۹۹م کال،۱۲۸ مخ،

۱۴-: ډاکټر سلمی شاهین، روهي سندري، لومړی ټوک، دوېم چاپ، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۱۳م کال،۱۰۸ مخ،

۱۵-: همدغه حواله، ۱۱۱مخ.

۱۶-: سلیمان لایق، پښتو لنډۍ، ۱۱۹ مخ، دوېم چاپ، نیوکابل کتاب پلورنځی پېښور.

۱۷-: نورالبصر امن، د پي ایچ ډي سکالر، پښتو څانګه پېښور پوهنتون.

۱۸-: سمندر یوسفزی، د پي ایچ ډي سکالر، پښتو څانګه پېښور پوهنتون.

۱۹-: ډاکټر امین تنها، سخاکوټ خېبر پښتونخوا.

۲۰-: غنم رنګ کوچی، پېښور.

۲۱-: سوچي یوسفزی، بونېر.

۲۲-: جمشید مومند، د پي ایچ ډي سکالر، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون.

۲۳-: فرزانه غني، د پي ایچ ډي سکالره، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون.

۲۴-: ګل منېر، د پي ایچ ډي سکالر، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون.

۲۵-: پروفېسر نواز طایر، روهي ثقافت (ټپه او ژوند)، خېبر پښتونخوا حکومت، چاپ کال ۲۰۱۲م، ۱۷۲ مخ